Supreme Court ستره محکمه
24 May 2025 ·

په لغمان ولایت کې لسو کسانو ته تعز/يري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولایت مرافعه محکمې د پرېکړې له مخې اوو کسانو ته د نامشروع اړیکو او قطاع الطریقۍ په جرمونو او درېیو کسانو ته د غلا په تور؛ نن شنبه ۲۶/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.
مرافعه محکمې یاد مجرمین او متهمین له شپږو میاشتو څخه تر پنځو کالو پر تنفیذي بند او له ۳۰ـ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر یادو کسانو تطبیق شوه.
په دې موخه جوړه شوې غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې د عامه امنیت دېوان رئیس مولوي امداد الله حنفي لخوا د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.
وروسته د لغمان ولایت مرستیال والي محترم مولوي اختر محمد (مزمل) د اسلا/مي شر/یعت په رڼا کې د حد/ودو او تعزیر/اتو په اهمیت خبرې وکړې وویل، دا څو کاله جها/دي مبارزه په همدې خاطر وه چې اسلا/مي شر/یعت حاکم شي، ځکه چې اسلا/مي شر/یعت د عقل، مال، نفس او نسب په ساتنه ټینګار کوي او د یادو شیانو تحفظ په حد/ودو او تعز/یراتو کېږي.
دغه راز په غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مولوي عبدالکریم (حقا/ني) او د یاد ولایت د تخنیکي او مسلکي زده کړو آمر مفتي ذبیح الله (حقا/ني) د حد/ودو او تعز/یراتو په اهمیت تفصیلي خبرې وکړې.
غونډه د سرې میاشتې رئیس محترم مولوي ولي الله لخوا د دعا په لوستلو پای ته ورسېده.

